عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۰۳/۲۰

نوروز ته سرود

له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده
پسرلی د عشق راخور کړه له زاړه ام البلاده
د هېلمند مسته څپه شه په لرغوني سیستان واوړه
د کابل ارغوان ښکل کړه، د باګرام هوا کړه ښاده
-
پر سرلوړي هري واوړه، چې ګذر په اصفهان کړې
بخارا ته وړمه یوسه، چې پرواز په بدخشان کړې
د سوما په باده مسته! د «سدي» د جشن یاده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده
-
له «ګنجه» تراباسینه، له ګنګا تر سمرقنده
له قونیې ترفراه روده، له لاهوره ترخجنده
د زلمو دي اتڼونه، د ښایسته پېغلو نڅا ده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده
-
نوی کال دی، نوی ژوند دی د اقبال ستوری بلند دی
د داني نوی پیوند دی، د دهقان خاطر خرسند دی
تر پښو لاندې سبزه ده، پاس دعشق نوې هوا ده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده
-
سمنک دې شنه قدم ته، هفت مېوه د سپرلي دم ته
قزاقي سمند دې زین کړه، راشه بیا قرغزي چم ته
چې بیا یو کړو سره زړونه، لویه سوله کړه بنیاده
له بامي بلخه راپاڅه د نوروز د سهار باده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ